ډاکتر م ، عثمان تره کي ۲۰۱٦/۰۷/۱٤

# پښتون وژنه ژیوپولتیک لامل لري

« برژنسکي » د امریکا د ملي امنیت پخواني مشاور پخپل کتاب کې ( د سطرنج ستره لوبه ) لیکي چې منځني ختیځ په جغرافیا باندي ولکه په اتوماتیکه توګه د « یوریشیا » په « بالقاناتو » باندي د کنترول په مانا ده.

د« برنژسکي » له اند د یوریشیا « بالقانات » د قفقاز (ګرجستان ، آزربایجان او ارمنستان) ، مرکزي آسیا (افغانستان ، پاکستان ، قزاقستان ، ازبکستان ، قرغزستان ، تاجکستان ، ترکمنستان ) او تر یوې اندازې پورې د ترکي او ایران د ترکیب نه جوړیږي. اوس مهال انګلوساکسون ستراتژیستان او نظامیان ، افغانستان ته دمرکزي اسیا د ننوتلو دروازې په توګه ګوري. امریکایي لیکوال « ګور ویدال » لیکي : « موږ افغانستان ته چې د مرکزي آسیا د ننوتلو دروازه ده اړتیا لرو. د تیلو او ګازو په زیرمو باندي ولکه د همدغه لاري نه ترلاسه کیږي ... » ( اوږدمهاله جګړه د اوږدمهاله سولې د پاره کتاب ـ د مي ۱۱ـ ۲۰۰۶ م کال ).

د سیمې د نقشې د بدلون په موخه ، « برژنسکي » د « بالقانات » اصطلاح په ډېر دقت ټاکلې. دغه اصطلاح د نړیوالې لمړۍ جګړې کله چې ختیځ اروپا د قاومي او مذهبي ټکرونو له مخې لمړۍ په کوچنیو برخو وېاشل شوه او ورپسې د سترو سیالو قوتونو تر منځ وویشل شوه، زیږنده دي.

د لویدځ ستراتژیستانو له انده د « یوریشیا » ملي ، قومي ، مذهبي او سرحدي اختلافونه ژورتیا او جغرافیایي پراختیا له یوې خوا اود شوروي امپراتورۍ د ړنګیدو نه وروسته په سیمه کې د قدرت تشه له بلې خوا مرکزي د آسیا « بالکانیزیشن » ( بالقاني کول ) ته زمینه برابروي.

## پطرول ، وینه او جګړه په ژیوپولتیک تړاو کې :

مرکزي آسیا او د کسپین سمندر سیمې ، د کویټ ، مکزیک ، خلیج او شمالي سمندر په پرتله زیاتره تیل او ګاز لري. د سهیلي آسیا د هیوادونو چټکې ودې ، د تیلو او ګازو واردات او صادرات اغیزمن کړي دي او د مختلفو هیوادونو تر منځ يې سیالیو ته لاره هواره کړې ده.

د منځني ختیځ تیل او ګاز مخ په کمیدو وضعیت ، د انرژي پانګي اچونکو پام دمرکزي آسیا خواته اړولی دی.

نن د مرکزي آسیا په طبعي منابعو باندي قبضې ، ملي غوښتنو ته لمن وهلې ، سرحدي او ځمکني تاریخي دعوې يې راژوندي کړي او امپریالستي سیالیو او ټکرونو ته يې زمینه برابره کړېده.

د انرژي د نړیوال آژانس د راپور له مخې ، پطرولو ته کلنۍ اړتیا په سلو کې دوه سلنه زیاته شوې. د پطرولو مصرف په ۲۰۰۳ م کال کې ۸۰ ملیونه بیرل وو. په ۲۰۲۰ م کال به ۱۲۰ ملیونه بیرلو ته ور سیږي.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

پطرولو ته د امریکا اړتیا د ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۲۵ کال پورې په سلو کي د ۵۵ نه تر۷۱ سلنې، د اروپا اړتیا په سلو کي د ۵۰ نه تر ۷۰ سلني او د چين مصرف په سلو کي د ۳۰ نه ۷۳ سلني ته لوړيږي. په بل عبارت پطرول او گاز ، صنعتي پرمختللي هیوادونه له صادرونکو هیوادونو سره تړي.

بنأ د افغانستان جگړه هرومرو په طبعي سرچينو باندې د سیمي او نړۍ د ځواکونو تر منځ د سیالي د فورمول په چوکاټ کي راځي.

پيبنو ته په کتو سره ویلي شو چې د افغانستان د لارې سیمي ته د امریکا راتگ د نویارک د پيبني نه مخکي پلانیزه شوې و. « برژنسکي » ۲۵ کاله مخکي امریکايي سیاستوالو ته د موضوع په اړوند الهام بخښوونکي سیگنالونه مخابره کړي وو.

## په سیمه کي د ناټو حضور د ستراتژيکو قواوو د ناانډولی په لامل بدل شوی دی:

امریکا او ناټو سیمي ته په راتگ سره له دوو ستونځو سره مخ شول:

۱ـ د افغانستان په شاوخوا کي د سیمي د هیوادونو حساسیتونه. د دغو حساسیتونو په وړاندي ډیپلوماسي وکارول شوه.

۲ـ په افغانستان کي د بهرني هژموني په وړاندي د پښتنو سرسخت مقاومت. ناټو د مقاومت په وړاندي جگړه غوره وگڼله. د پښتون، طالب او ترهگر تر منځ کرښه له منځه ولاړه.

### په باندې موضوعاتو لنډ نظر :

۱ - په افغانستان کي د ناټو حضور د ستراتژيکو قواو و معادلي ته د لويډيځوالو په گټه بدلون ورکړی او دافغانستان په شاوخوا کي يي د سیمي دهیوادونو حساسیتونه راپارولي او د پاکستان ، ایران ، چين اوروسیي دغبرگون لامل شوې دي.

**پاکستان :** د نړیوال نظامي ائتلاف ( ن ، ن ، ا ) ستراتژيک ملگري ، سره له دې چي د افغانستان د جگړې په پيل کي خپله خاوره او فضا دناټو جنگي تحرکاتو ته پرېښوده خو په گاونډي افغانستان کي د ناټو اوږدمهال حضور ځانته خطر بولي. د افغانستان د جگړې په اړه د پاکستان چلند په لاندي ستنو باندې ولاړ دی:

ـ « ن ، ن ، ا » سره دوه گوني لوبه.

ـ د ناټو په وړاندي دجگړه ایز فشار ساتنه. د همدې مقصد د پاره د افغان وسله وال مقاومت افزاري کیدل او وربادي د دایمي کنترول بې ځایه هڅې.

ـ د امریکا په ملاتړ د تروریزم سره د جگړې په پلمه په قبايلي سیمو کي د دولتي ولکه ټينگول او د پښتنو په سیمو کي د پښتنو د آزادي غوښتونکي مقاومت پوتانسیل ( چي پاکستان ورته د بالقوه خطر په بڼه گوري ) ماتول.

ـ د ډیورنډ کرښي په اوږدو کي د اغزن سیم غزولو او نظامي پستي په جوړولو کي یو اړخیزه مالکانه تصرفات. پدغه برخه کي د « ن ، ن ، ا » سکوت دا مانا ورکوي چي که پاکستان په افغانستان کي ناټو ته ستونځي جوړې نکړي مور د افغانستان په خاوره کي پاکستاني تصرفاتو ته هرکلي وایو. یاني د ملگرتیا په حساب د افغانستان جغرافيا پخپل منځ کي ویشو .

ـ  په سیمه کې  د  چین  د  ستراتیک  انډیوال  څخه  د  ناټو  په  وړاندې  د  متقابله  وزني   په  توګه  کارول.

**ایران :** سره له دې چې پاکستان غونډې د افغانستان د اشغال په  مقصد د « ن ، ن ، ا » سره د اخلاص نه همکاري وکړه او ستراتژیکي لوبې ته د قوت الظهر په توګه ورننوتل، خو په افغانستان کې د ناټو له حضور سره  په مخالفت د طالبانو دېټ ملاتړ درېز ونیو. ایران په خپل ګاونډي افغانستان د سعودي عرب او ترکي دنفوذ نه په وېره کې دی او داعش د لویدیځوالو د هژموني د لاسوند په توګه ځانته خطر ګني. ایران پدې لټه کې دی چې له یوې خوا طالبان د سوتې په توګه د امریکا او داعش په ضد وکاروي او له بلې خوا په یوه فرسایشي ، اوږد مهاله او ناانډوله جګړه کې د پښتنو سیاسي او جنګي پوټانسیل کمزوری کړي.

ایران د افغانستان په ناامني کې  پخپله خاوره کې د مرکزي آسیا د تیلو اوګازو تدارکاتي لارې چانس زیاتوي.

**چین**: د پاکستان له ستراتژیکي انډیوالي نه کته پورته کولي نشي  تر څو چې په افغانستان کې د ناټو په سروالي جګړه دوام ولري. د چین په وړاندې دوه الترنتیفونه ( بدیلونه) قرار لري:

ـ په افغانستان کې دسولې پروسې ته ځان شاملول. دغه اقدام ترهغه وخته پورې نتیجه نه ورکوي چې د جګړې د دوام نوښت د ناټو په لاس کې وي.

ـ د تروریزم سره د جګړې تر نامه لاندې دناټو سیمه ایز پروګرام ته ځان ورګډول . دغې موخې ته د رسیدو شرط دا دی  چې د ناټو او چین تر منځ د تروریزم د تعریف په اړه  د  اند او دریز یووالي موجودې  وي.

**روسیه :** په افغانستان کې د ناټو نظامي حضور مرکزي آسیا خواته د ناټو دپراختیا غوښتونکی سیاست په بڼه ګوري چې په سیمه کې یې د قواوو په انډول باندې د روسیې په تاوان ناوړه اثر اچولی دی .

د افغانستان د جګړې په اړه د روسیې او ایران تر منځ د دریځ نږدیوالي وجود لري.

د روسانو  هلو  ځلو  چې  د  افغانستان  د  اشغال  په  اړوند ، پاکستان  د  امریکا  او  ناټوله  ملګرتیا  نه  وباسي  تر  دې دمه  نتیجه نده ورکړې.

روسیه پدې توانیدلې چې د شوروپانو د وخت نه پاتې شویو افغاني جنګي کړیو سره اړیکې  ګرمې وساتي او په دوی باندې د ناټو فشارونه دفع کړي.

## قومي حساسیتونه د جګړې د اور د بل ساتلو کلاسیکه وسیله:

د ژیوپولټیکوموخو  د  پاره  د  سکتاریستي ، قومي  اومذهبي  تفرقي  نه  کته  پورته  کول  د  ښکېلاککرو  ځواکونو دعمر د اوږدوالي په اندازه لرغونتوب لري. په نږدې کلونو کې  امریکا او انګلستان په افریقا ( روندا ) ، لاتین امریکا ، ختیځې اروپا ( یوګوسلاویا ) او منځني ختیځ ( عراق او سوریې )  کې  په سکتارستي ، قومي او مذهبي ټکرونو کې د پام وړ سیاسي پانګه اچونه کړې ده.

په افغانستان کې د قومي حساسیتونو نه سیاسي استفاده د یرغلګرو قوتونو د اجنداَ په سر کې قرار لري . پدې برخه کې دریو لاملونو  د پام وړ رول ولوباوه:

ـ  د بهرنیو قوتونو اوږدمهاله جګړه ایز حضور چې په ترڅ کې یې د نفاق اچوني ماسترپلان تر تطبیق لاندې ونیول شو.

ـ  د شوروپانو د وخت له اشغال نه د قومي ټکرونو د پوټانسیل پاتې شوی میراث.

ـ د قومي حساسيتونو د راپارولو په موخه د استخباراتي او تبليغاتي نوې تکنالوژي ( نومريک او ديجيتال ) دظرفيتو نو نه بشپړه استفاده.
جنرال « جيمز ماتيس » د امريکا د کوماندويي قواوو قوماندان په ۲۰۰۷ م کال کې پنجشير ته د تګ په وخت د قوماندان مسعود د قبر د ليدو نه وروسته حاضرينو ته وويل : « د مسعود د مقبرې زيارت ماته هغه احساسات راوپارول چې د امريکا د « بابا » يعني جارج واشنګتن د مقبرې د ليدو راته په برخه کيږي ».
(لاس انجلس تايمز ۱۸ مې ۲۰۰۷ ).
په وروسته پاتې افغانستان کې ، کوم چې ديموکراسي د ولس په معتقداتو کې ژورې ريښې نلري ، د امريکايي جنرال فتنه اچونکې څرګندونه په ډاګه د قومونو تر منځ دجګړې اور ته د لمن وهلو په مانا وه.« جيمز ماتيس» د دغه تفرقه اچونکو څرګندونو له لارې غوښتل هغه سياسي قدرت ته چې په دوديزه توګه د پښتنو په وسيله اِعمال کيده متنازع فيه بڼه ورکړي : قومونه سره وجنګوي.
دا د امريکا له خوا د قاومي تکرونو د توطئې هغه لړي وو چه « سي آي اې » مخکې ورباندې کار پيل کړې وو : « سي آي اي » د افغانستان په قاومي جوړښت کې د پښتنو او تاجکانو تر منځ د سيالي او دښمني ذهنيت د جوړولو په مقصد په خپل رسمي سندونو کې د هر يو شمير په سلو کې دوه څلويښت ښودلې وو.
( د « سي آي اې » د حقايقو کتاب څيرنه ـ څيرکيار – ۲۰۱۳ ). د اوسني حکومت ( پنځوس، پنځوس ونده ) د جوړښت ريښې سي آي اې توطئې ته ځغول کيږي.
که موږ دافغانستان په جګړه کې د « ن ، ن ، ا » د سترو بريالیتوبونو په لټه کې شو بايد دوو مواردو ته اشاره وکړو:
ــ د پښتنو په ضد د غير پښتون قومونو عصبيت راپارول چې ورته د جګړې افغاني کېدلو نوم ورکړشو.
ــ د پښتنو په منځ کې مخکنيو ټکرونو ته لمن وهل چې په نتيجه کې طالبان ، اسلامي ګوند ، داعش ، خلق ، افغان ملت يو بل سره د دښمني په دريځ کې واقع اوحکومتي پښتانه له غير حکومتي پښتنوسره په جګړه شول.

## ولې لر او بر پښتانه په نښه کيږي ؟

امريکا او ناټو په افغانستان باندې د يرغل په پيل کې د لاندې دلايلو په بنسټ پښتانه د دښمن په توګه پيژندل او له تروريزم سره د مقابلې تر پلمې لاندې يې ورسره جګړه پيل کړه:
ـ د ډيورنډ دواړو خواوپښتانه په يوو ژيوپولتيک او ژيوستراتژيک د پام وړ سيمه کې ميشت دي : د تاريخ په روايت دغه جغرافيايي دهليز د آسيا په زړه کې د افغانستان ، هندوستان او پاکستان دجنګې کلا په حيث پيژندل شوې ده. جنګي کلاباید ورانه شي ترڅو چې له هغې نه د ژيوپولتيکو پروګرامونو په وړاندې د « دستار سړی » سر راپورته نکړي او د مرکزي آسيا د تيلو ، ګازو او برښنا لوژستيک او اکمالاتي لاره تر کنترول لاندې راشي.
له شوروي يرغل نه راهيسې په قبايلي سيمو کې د جهاد هنګامه کله د پاکستاني واکدارانو او کله د بهرنيو يرغلګرو په ضد راروانه ده. « ن ، ن ، ا » د ځانګړي تعبير له مخې ، جهاد د تروريزم مور ګڼي او د افغانستان د مورچل نه ورسره جګړه بهترينه وسيله شميري .
سيمې ته د امريکا راتګ له ځان سره پاکستان ته د ويرې او هيلو پيغام درلود : ويره يدې مانا چې په سيمه کې پاکستان سياسي اسلام ( چې امريکا او ملګري يې ورسره په جګړه کې دي ) د خپل بهرني سياست د يو

لاسوند په توګه کاروي. هیلي پدي چي پاکستان تل د پښتونخوا د آزادي غوښتونکو جذباتو د ویرې په وجهه په دي لټه کي شو چي له امریکا سره د افغانستان   د لاندي کولو ځرت په مخ بوځي او پښتون ، طالب سره په ترادف، دښمن  وشمېري. د تروریزم  د جګړي تر نامه لاندي امریکا سره  ګډ دریز خپل  کړي: امریکا  د پاکستان او افغانستان د حکومتونو په ګډه همکاري د ډیورنډ د دواړو خواوو پښتنو د ټکولو او وژلو پروګرام پلي کړ : پښتانه د افغانستان په د ننه کي، د امریکا او کابل حکومتونو له طرفه او د باندي له ( ډیورنډه هغې خوا) د پاکستان پوځ له خوا تر ګوزارونو لاندي ونیول شول.

« ن ، ن ، ا » سره له دي چي په شدت سره یې قومي حساسیتونه راوپارول خو نه یي غوښتل چي  د قومونو تر منځ د نفاق او دښمني اچولو په تور محکوم شي. له همدې کبله یي ترجیحاً دپښتون وژني دنده ، پښتنو ګمارل شویو دولتي چارواکو ته وسپارله:  دافغانستان په د ننه کي یې دا دنده لمړی کرزي اوبیا غني ته ورکړه.

ـ د افغانستان په قومي ترکیب کي د پښتنو د شمیر ډیروالی او له همدې کبله د تاریخ په اوږدو کي  د قدرت په معادله کي د قومي محوریت په بنسټ د پښتنو فزیکي او سیاسي نفوذ د دوی د ځپلو بل لامل دي. په بل عبارت د سیاسي نظام په جوړښت کي د پښتنو د پام وړ لنګر او ورسره جوخت د وروڼو قومونو په کورنی کي د  مشري دعوه ( په واقعیت کي د کور په د ننه د سیاسی قیمومیت غوښتنه )  ددې باعث شوې چي د یرغلګرو او د کور د ننه پښتون ضد کړیو له خوا د جګړي ګډه جبهه جوړه شي .

ـ د بهرنیو یرغلګرو په وړاندې د پښتنو پردې ضد روحیه او جنګي تجربې ، د دوی د مغضوب کیدو بل لامل دی.

## د قومي تصفیي لاسوندونه:

د ملګروملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي کاي آیدې مرستیال  « پیټر ګالبریټ » د امریکا  د یرغل په درشل کي په حق ویلي و، چي امریکا په افغانستان کي د پښتنو د مقاومت سره مخامخ ده.

بنأ د اوږد مهالي  او نااندوله جګړې له لارې د پښتنو فزیکی حذف چي په ځینو حالاتو کي آن د ژنوساید تر کچي پورې رسیږي د امریکا  د جګړه ایزې اجنډا په سر کي قرار لري. خو له جګړې سره جوخت په سیاسي او امنیتي چارو کي لاندې پروګرامونه پلي شول :

ــ قومي حساسیتونو ته لمن وهل او په قومي جګړه کي په ښکاره د پښتنون دښمن  کړیو  په ملاتړ جانب دارانه دریز.

ــ  د دولت د ستیژ نه د پښتنو مقاومت د ځپلو په مقصد،  د امنیتي اورګانونو سروالي پښتون ضد جګړه مارانو  ته سپارل. که دغه اقدام د دیموکراسي په بنسټ په سوله ایزه فضا کي د مسلکي پوهي په حساب  تر سره شوی وای هیڅ تاوان یې نه کاوه.

ــ د ټاکنو تر پلمي لاندې د قومونو تر منځ د دولت سروالي متنازع فیه کول:«ګالبریټ»( امریکایي او  د  یوناما معاون )  د ۲۰۰۹ په ټاکنو کي زیاتي هلي ځلي وکړې  چي د کرزي په  ځاي د هغه ټاکنیز سیال بریالي اعلان کړي. « ګالبریټ » په ټاکنو کي د لاسوهني په تور د « کاي آیدې »  (سویډني او د یوناما مشر ) له خوآ ګوښه کړای شو.

ــ دپښتون ضد توپکمارانو او جنایت کارانو نه ملاتړ او  هغوی پښتون وژني  ته تشویقول.

ـ د تروریزم او دیموکراسي افزاري کیدل. پښتانه د تروریزم سره د جګړې تر نامه لاندې د قومي لړکیو په وسیله ټکول او د دیموکراسي په لوبه کې د لړکیو مصروف ساتل.

ـ د وسله وال مقاومت ( چې زیاتره پښتانه په کې برخه لري ) په منځ کې د نفاق اچولو په موخه فرمایشي ډلې ټپلې جوړول. د طالب په ضد د ملا رسول تر شا درېدل. د داعش او طالب ( دواړو پښتنو) تر منځ د جګړې اور ته لمن وهل.

ـ حکومت ته داسلامی حزب دتسلیمیدو تشویقول. پروګرام داسي تنظیم شوی و چې د اسلامي ګوند ، تیت او پرکې ټوټې د خپل مشر په سروالي یو ځای د طالبانو په وړاندې دجګړې ډګر ته ورداخلې شي . یانې پښتون د پښتون په واسطه ووژل شي. اوس هم دغه توطئه د عملي کیدو په درشل کې قرار لري.

ـ د پښتون په محوریت باندې د دولتي نظام د باندې یا د ننه د مذهبي او ملي مقاومت د جوړېدو د تحرکاتو مخه نیول:

د ملا عمر، ملا منصور او د نورو زرګونو قومي مشرانو وژنه پدې مانا ده چې د اولس له منځه څوک سر را پورته نکړي . د ملا منصور د شهات نه پرته زیاتره وژنې د « ن ، ن ، ا » او پاکستان په ګډه همکاري ترسره شوې دي.

« ن ، ن ، ا » تل پدې هڅه کې و او دی چې د د یموکراسي ( د دوکې او تقلب رسمي لاسوند ) د پروسې تر پلمې لاندې په دولتي نظام کې د قومی ډیره کیو په لاس د سیاسي قدرت د تمرکز مخه ونیسي. د همدغه منطق په بنسټ د اوسني حکومت واک د سیالو قومونو تر منځ پنخوس ، پنځوس وویشل شو.

ـ امنیتي خصوصي کمپنی ګانې ، اربکیان او سیمه ایز پولیس د قومي تصفیې د پلان پلې کولو نور افزار شمیرل کیږي .

ـ د سولې لار د امریکا او مقاومت تر منځ د مذاکراتو له چینل څخه تیریږي . خو امریکا د جګړې د اوږدولو په موخه ملامنصور ووژه او د مخکنی ژمنې په خلاف د افغاني امنیتي ځواکونو په ملاتړ جګړې ته ورداخله شوه. موخه د پښتنو دانساني ځواک ماتول او په سیاسي لحاظ هغوی حاشیې ته ایستل دي.

## نتیجه :

پښتانه په سیمه کې داسې یوستر قوم دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې سیمې ته ثبات وربخښلی . هغه هلې ځلې چې د ژیوپولتیستانو له خوا د دغه قوم د کمزوري کولو په مقصد تر سره کیږي د سیمې بی ثباته کولوموخې تعقیبوي . خو له نېکه مرغه نن هغه توطئې ، تطمیع ، تزویر ، هدفمندې وژنې، عام وژنې چې په دریو لسیزو کې د ژیوپولتیکو موخو د تامین په مقصد چې په منظمه توګه یې د سیمې پښتانه په نښه کړې وو، اغیزمنتوب او منطق تر سوال لاندې راغی.

د جګړې نه مخکې پښتانه ویده او په قابو ناستو کورنیو او بهرنیو غلیمانو د شته والي نه بیخبر وو. جګړې ویښتیا او ملي شعور وروبابښه . نن پښتون په دفتر او ډګر کې د هغه تاریخي « افغاني هویت » په لټه کې دی چې اشغالګرو قوتونو او پښتون دښمنو کړیو دګډې توطئې اوتپل شوې جګړې له لارې ورڅخه غلا کاوه. « افغاني هویت » ټول هغه کسان په غیر کې نیسي چې د ملي شعور او سالم وجدان نه برخمن دي. پښتون هغه وخت خپل تاریخي رسالت سر ته رسولی شي چې حق غوښتنې ته د قومي تعصب رنګ ورنکړي

اوخپله حق غوښتنه د نورو ورونو قومونو د حقونو د حذف کېدو په وسیله بدله نکړي.
امریکا د افغانستان په جګړه کې د اټکلن ۱۱۰۰ ملیارده دالرو لګولو تر څنګ اټکل یو ملیون پښتانه ووژل. خو نه مقاومت له منځه ولاړ او نه هم طالبان کمزوري شول. حتی د افغانستان ډېری ولس او ځمکه دطالبانو تر واک لاندې راغله.
دېرش کلني تېل شوې نااندولې جګړې پښتانه ډېر ژوبل کړل خو په روحي او اخلاقي لحاظ ندي وژلي : پښتانه د امریکايي یرغل د پیل په پړتله دمګړی په مورچلونو کې د قوت په دریز کې قرار لري. خو د بې اتفاقي دناورین له کبله په اوسني استخباراتي پیچلي جګړه کې قهراً له سیاسي تشخص نه بې برخې پاته شوي دي.
د اشغال په وړاندې جهاد او مقاومت د لر او برو پښتنو تر منځ د بیلتون کرښه عملاً له منځه وړې او دیرغلګرو په وړاندې یې دمقاومت لیکو ته پیاوړتیا وربخښلې ده. په وروستیو کلونو کې د ځینوغیر پښتون قومونو ځینې ډلې د مقاومت د داعیې د حقانیت په پوهاوي سره له خپلو مشرتابه توپکمارو نه جلا او مقاومت لیکو ته ورداخلې شوې. خو د پښتنو په ضد هغه توطئه چې په کې د بهرنیانو له خوا غیر پښتانه استعمالیږي لاهم ادامه لري.
واقعیت دا دی چې تر هغه وخته پورې چې « ن ، ن ، ا » د قومونو تر منځ د جګړې د دوام په مقصد دښمنیو ته لمن ووهي او د ۶۰ ملیونو پښتنو او ورسره ورونو قومونو ارادې ته پام راوانوړي ، ژیوپولتیکو معادلاتو ته استقامت او واحد افغانستان او سیمې ته ثبات وربخښلې نشي.
فرانسه
۲۰۱۶/۰۷/۱۲
دوکتور م ، عثمان تره کي